# رسنيزه اعلاميه: په افغانستان کې د بشريت ضد جنايتونو په تور د تورنو کسانو د نيولو په اړه د نړيوالې جزايي محکمې د حکم هرکلی

05/10/2026

رواداري د نړيوالې جزايي محکمې د هغې پرېکړې هرکلی کوي چې د طالبانو د دوو نورو لوړپوړو چارواکو پر وړاندې يې د بشريت ضد جنايت، په ځانګړې توګه د جنسيتي ځورونې، په تور د نيولو حکمونه علني کړه او دا پرېکړه د حساب‌ورکونې د پياوړتيا، د مجازاتو له معافيت سره د مبارزې او عدالت ته د قربانيانو د لاسرسي د حق د ټينګښت په برخه کې يو مهم او تاريخي ګام بولي.

نن د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر په ۵مه، نړيوالې جزايي محکمې د طالبانو د پوهنې وزير حبيب‌الله آغا او د طالبانو د لوړو زده‌کړو وزير ندا محمد نديم د نيولو حکمونه علني کړل. دغه دوه حکمونه د طالبانو د مشر هبت‌الله اخوندزاده او د طالبانو د قضايې قوې د رئيس عبدالحکيم حقاني د نيولو د حکمونو په دوام کې صادر شوي دي. پر دوی لګېدلي تورونه، د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسيتي ځورونې ترڅنګ، هغه کسان هم ځان کې رانغاړي چې د ښځو د حقونو په برخه کې د طالبانو له تبعيضي سياستونو سره د مخالفت له امله ځورول شوي او تعقيب شوي دي.

په تېرو پنځو کلونو کې ښځې او نجونې په سيستماتيک ډول له خپلو ګڼو بنسټيزو حقونو، په ځانګړې توګه د زده‌کړې او تحصيل، کار او دندې، د تګ راتګ د آزادۍ، په ټولنيز او عامه ژوند کې د ګډون، او فرصتونو او عامه خدمتونو ته د مساوي لاسرسي له حقونو څخه محرومې شوې دي. په همدې موده کې د مدني فعاليتونو لپاره زمينه هم په جدي توګه محدوده شوې ده او د بشري حقونو مدافعين، د ښځو فعالانې، خبريالان، منتقدان او نور خپلواک غږونه له ګواښونو، نيونو، ډار او د فشارونو د نورو ډولونو سره مخ شوي دي. د دې وضعيت دوام د حساب‌ورکونې او د بشري حقونو د جدي سرغړونو او نړيوالو جرمونو د اغېزمنې څېړنې او رسيدګۍ اړتيا تر بل هر وخت ډېره اړينه کوي. قربانيان حق لري چې عدالت او د حق غوښتنې اغېزمنو ميکانيزمونو ته لاسرسی ولري. د بشري حقونو د جدي سرغړونو او نړيوالو جرمونو اړوند تورونه بايد په خپلواک، بې‌طرفه او د حقوقي معيارونو له مخې وڅېړل شي.

رواداري د افغانستان له ښځو او نجونو، د قربانيانو له کورنيو، د بشري حقونو له مدافعينو، د مدني ټولنې له فعالانو، خبريالانو او ټولو هغو عدالت غوښتونکو څخه مننه او قدرداني کوي چې له ګواښونو، فشارونو او محدوديتونو سره سره يې د بشري حقونو د سرغړونو مستندسازۍ او د قربانيانو لپاره د عدالت غوښتنې ته دوام ورکړی دی. په دې لړ کې، د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې جوړېدل يو مهم فرصت و چې د ښځو او قربانيانو روايتونه او شهادتونه يې واورېدل، د هغوی تجربې يې ثبت او خوندي کړې او د نړيوالې ټولنې پام يې ورته راواړوي. د دغو ټولو هڅو ټولګه د شواهدو په ساتنه، د عدالت غوښتنې په پياوړتيا او د عدالت او حساب‌ورکونې په اړه د قربانيانو د غوښتنو په اغېزمنه توګه په تعقيبولو کې مهمه ونډه لرلې ده.

په همدې لړ کې، رواداري له دولتونو څخه غوښتنه کوي چې د نړیوالې جزايي محکمې پرېکړه جدي ونیسي او د نړیوال عدالت د ملاتړ په برخه کې خپل رول او مسئولیت ترسره کړي. د نړیوالو قضايي بهیرونو ملاتړ، د مجازاتو له معافیت سره مبارزه او عدالت ته د قربانیانو د لاسرسي تضمینول هغه ګډ مسئولیتونه دي چې نړیواله ټولنه یې پر غاړه لري.

رواداري هیله لري چې د نړیوالې جزايي محکمې وروستی اقدام به په افغانستان کې د بشري حقونو د جدي سرغړونو او د نړیوالو جرمونو اړوندو تورونو په وړاندې د حساب‌ورکونې د بهیر په لا پیاوړتیا کې مرسته وکړي. په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو قربانیان له کلونو راهیسې د عدالت، حقیقت او د خپلو کړاوونو د رسمیت پېژندلو لپاره عدالت‌غوښتنه کوي. دغه غږونه باید د سیاسي تحولاتو او د نړیوالې ټولنې د لندمهاله ملاحظاتو په منځ کې له پامه ونه غورځول شي.

رواداري یو ځل بیا د بشري حقونو د سرغړونو د مستندسازۍ، د قربانیانو د حقونو د ملاتړ، د حساب‌ورکونې د ارتیا، له مجازاتو څخه د معافیت پر وړاندې د مبارزې او د عدالت د تحقق لپاره د خپلو هڅو په اړه خپله ژمنتیا څرګندوي. موږ باور لرو چې د دوامدار او معنی لرونکي عدالت ټینګښت هغه مهال شونی دی چې د قربانیانو حقونه، انساني کرامت او غوښتنې لومړیتوب ولري، حقیقت په رسمیت وپېژندل شي او د نړیوالو جرمونو اړوند تورونه د بشري حقونو د بنسټیزو اصولو او د عادلانه محاکمې د معیارونو په چوکاټ کې وڅېړل شي.